هفته نامه
# مبارزه
اوونیزه
سال سوم
بیانگر مبارزه بر حق پولیس ملی
شماره مسلسل ◘ نودوچهارم ◘ شنبه ۱۰ قوس ۱۳۹۷ ◘ اول دسمبر ۲۰۱۸ م

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د کورنیو چارو وزارت، د دولت په تشکیلاتي اډانه کې؛ یو له مهمو امنیتي بنسټونو دی. د دې وزارت مهمه دنده دا ده، چې ملي پولیس په ترتیبي ډول رهبري کړي؛ تر څو دوی وکولای شي د قانون د تنفیذ، د امنیت د ټینګولو او د افغانستان د خلکو لپاره ښه خدمات وړاندې کړي او له خپلو کړنو د نافذه قوانینو په اډانه کې ځواب ووایي. د دې ترڅنګ ملي پولیس باید د ودې حالت غوره کړي، تر څو د جرمونو په وړاندې د مبارزې په برخه کې په عصري وسایلو سمبال او له نافذه قوانینو سره آشنا وي.

ویس احمد برمک

د کورنیو چارو وزیر

## د نبي کریم (ص) د زوکړې لمانځنه



کورنیو چارو وزارت کې د نبي کریم (ص) د زوکړې کلیزه ولمانځل شوه. په دې نمانځغونډه کې د کورنیو چارو وزیر، لومړي مرستیال، د هېواد یو شمېر علمای کرامو، مشرانو او د کورنیو چارو وزارت منسوبینو ګډون درلود.

د کورنیو چارو وزیر ویس احمد برمک، د حضرت محمد (ص) زوکړه؛ په بشر باندې د الله (ج) لویه پېرزوینه وبلله او وویل، چې نبي کریم (ص) د وحی وروستی سفیر و او پیدایښت یې له ناپوهی، انساني تبعیض او ظلم څخه د خلاصون لامل شو.

پاتې ۲ مخ

## د کورنیو چارو وزارت ګډه امنیتي غونډه



د کورنیو چارو وزیر په مشری، د دغه وزارت له مرستیالانو، رییسانو او جنرالانو سره ګډه امنیتي غونډه ترسره شوه.

یاده ګډه امنیتي غونډه چې د کورنیو چارو وزیر ویس احمد برمک، په مشری د دغه وزارت مرستیالانو، رییسانو او د ویډیو کنفرانس له لارې د ولایتونو امنیه قومندانانو په ګډون جوړه شوې وه، لومړی د کورنیو چارو وزیر د هېواد وروستي امنیتي وضعیت د څېړنې په موخه د ملي پولیسو ستونزو ته په اشارې سره وویل، د ولایتونو ټول امنیتي مسوولین باید د پولیسو ستونزو ته رسیدګي وکړي او له دې وروسته ټول اړونده

پاتې ۲ مخ

## د افغانستان د بشري سرچینو او تنخوا سیستم (اپس) غونډه



د افغانستان د بشري سرچینو او تنخوا سیستم (اپس) غونډه د کورنیو چارو وزارت د لومړي مرستیال لوی پاسوال جانان بارکزي په مشری جوړه شوه.

په دې غونډه کې په افغانستان کې د سیسټیکا اداري مرستیال جنرال بردن او د کورنیو چارو وزارت زیربطو چارواکو ګډون درلود.

د کورنیو چارو وزارت لومړي مرستیال لوی پاسوال جانان بارکزي د اپس له سیستم څخه د کارکوونکو په

پاتې ۳ مخ

## د ملي پولیسو له قطعاتو او جزوتامونو د مشکوکو کسان په ایستلو ټینګار



د ملي پولیسو له ټولو قطعاتو او جزوتامونو څخه به مشکوک کسان وویستل شی.

دا ټکی د کورنیو چارو وزارت ستر امنیتي معین ستر پاسوال اختر محمد ابراهیمي د یاد معینیت په امنیتي غونډه کې څرګند کړ.

ښاغلي ابرهیمي د ملي پولیسو په لیکو کې د خیالي او مشکوکو کسانو د ګوښه کولو او د ملي پولیسو قطعاتو او جزوتامونو ته د مېلمنو او غیرې مسووله وسله والو کسانو د داخلېدو د مخ نیوي په موخه ټولو

پاتې ۳ مخ

آګاهی:

به اشیای خطرناک نزدیک نشوید!

در صورت مشاهده اشیای ناآشنا و مهمات منفجر ناشده با پولیس اطلاع دهید

شماره تماس پولیس ۱۱۹



رادیو پولیس
FM 96.5
Police Radio
www.moi.gov.af
moiafghanistan
moiafghanistan
moiafghanistan
خشونت علیه زنان و کودکان جرم است.
۱۱۹

**سرمقاله**

## روش وسلوک مناسب پولیس با مردم نمایانگر فرهنگ عالی است

اصول برخورد و سلوک پولیس ملی در حقیقت تعهد اخلاقی و مجموعه از معیار های است که روش و سلوک منسوبین پولیس ملی را تنظیم نموده است، اصول متذکره بر مبنایی مفهوم عرصه خدمات بهتر برای عامه مردم استوار است. منسوبین پولیس ملی باید در اجراات خویش قانونمند، متواضع و بی طرف بوده، هیچگاه از صلاحیت های وظیفوی برای منافع شخصی خویش استفاده ننمایند.

سلوک و روش منسوبین پولیس ملی در حقیقت رعایت "اصول نامه برخورد و سلوک" است که اخیرا درچارچوب مقره وزارت امور داخله تنظیم و مشخص گردیده است و بر مبنای آن موقف منسوبین پولیس ملی و انجام وظایف آنها در راستایی حفاظت و حراست از حقوق بشر را مساعد نموده است.

اصول برخورد سلوک، توقعات و انتظارات مردم جامعه را از نیروهای پولیس ملی در مطابقت با قوانین نافذه کشور و معیار های قبول شده بین المللی، حقوق بشر تقویت بخشیده، قوانین و معیار های قبول شده بین المللی حقوق بشر را تقویت بخشیده، قوانین و معیارهای متذکره پولیس ملی را ملزم به اجراات اصولی مینمایند.

روش و سلوک خوب پولیس میکانیزم مهمی برای فراهم آوری رضایت مردم، کسب اعتماد و حمایت آنها از نیروهای امنیتی و دفاعی کشور محسوب میگردد.

افغانستان منحیث یک کشور متعهد به کنوانسیون های بین المللی مکلف است تا بر ضد هرنوع فساد بیروکراسی، نقض حقوق بشر، خشونت وسایر پدیده های منفی مبارزه نماید، از نیرو پولیس ملی کشور که مجری قانون تأمین کننده امن و نظم عامه در جامعه است، مکلفیت دارد که از خود شروع، بالای همه یکسان قوانین،مقره ها، فرهنگ رعایت نظم اجتماعی وبرخورد وسلوک را رعایت نمایند.

موفقیت پولیس درکاهش جرایم و ارتقای سطح مشارکت مردم در برخورد مناسب با شهروندان می باشد. پولیس می تواند با نظم ودسپلین عالی با نزاکت و با رفتارخردمندانه اش در تقویت فرهنگ خودکنترولی و دیگرکنترولی مردم نقش داشته باشد به گونه ای که شهروندان در نبود پولیس طبق ارزش ها، هنجارها و قوانین عمل نمایند.

پولیس ملی کشور همیشه در مراودت با مردم همسان ویک نوع رفتار نکند، چه در برابر یک شهروند یا یک متهم و یا جنایتکار، یک پولیس باید رفتار متفاوتی با اقشار جامعه داشته باشد، یک پیرمرد و یا پیرزن نیازمند همکاری باید، توسط پولیس با مهربانی حمایت شود نه اینکه باخشونت با او برخورد صورت بگیرد، استاد دانشگاه باید با احترام پولیس مواجه شود و شان او حفظ گردد، پولیس کشور وقتی با قشر زنان مواجه می شود به مثابه ناموس خویش باوی رفتار نماید. این رفتارها موجب جلب اعتماد مردم از پولیس می شود، میزان اعتماد به پولیس نشانگر موجودیت اخلاق عالی و رفتار اجتماعی درست در میان افراد پولیس است.

در بر خورد به اقشار مختلف جامعه پولیس باید متواضع بوده، وقتی پولیس با مردم عادی مواجه می شود خشونت در رفتارش وجود نداشته باشد و به نوعی خود را بالاتر از مردم احساس نکند، تصور نکند که گویا مردم خادم آنها هستند، بلکه خود را خدمتگذار مردم بشمارد، وتوأم با این انگیزه عمل نماید.

در این صورت موقعیت و اقتدار پولیس بالا می رود، پولیس کشور نه تنها امنیت را به جامعه به ارمغان می آورد بلکه متخلفان و کسانی که امنیت جامعه را مختل میسازند، آنها را نیز به پنجه قانون می سپارد، جامعه را معتقد میسازد که پولیس حامی وپاسبان نظم، قانونیت، مصئونیت وآرامش مردم است.

**د ۱ مخ پاتې برخه**

مسوولین مسوول دي، چې په امنيتي غونډو کې ورسپارل شوي مسووليتونو د عملي کار کولو راپور راتلونکو غونډو ته وړاندې کړي.



د کورنيو چارو وزير په ياد وزارت کې د فساد پر وړاندې په جدي مبارزې ټينګار وکړ وېې ويل، «د پوليسو په ټولو ادارو کې په ځانګړې توګه په ولايتونو کې دې د فساد پېژندنې او د مخ نيوې په موخه استخباراتي او کشفي ارګانونه په ګډه سره کار وکړي او ټول هغه کسان دې په نښه کړي کوم چې په فساد ککړ دي خو موږ يې له دندو ګوښه او پرځای يې وړ او مسلکي کدرونه ځای پرځای کړو.»

ښاغلي برمک د پېژنتون رييس ته سپارښتنه وکړه، چې تر راتلونکو دوه اونيو پورې دې د ټولو متقاعدينو لېست جوړ او ټول هغه منسوبين چې د تقاعد وخت يې پوره دی بايد تقاعد شي او له سيستم څخه ووځي.

وروسته د کورنيو چارو وزارت ستر امنيتي معين ستر پاسوال اختر محمد ابراهيمي د ميدان وردګو، غزني، زابل، ارزګان، خوست، لغمان، بدخشان، تخار، سمنګان، غور او فارياب ولايت له امنيه قوماندانانو سره د ويډيو کنفرانس له لارې خبرې وکړې او د دوی ستونزې او مشکلات يې واورېدل.

ښاغلي ابراهيمي د ولايتونو امنيه قوماندانانو ته جدي سپارښتنه وکړه چې د هرډول فساد پروړاندې مبارزه، د پوليسو په ليکو کې د فساد کلک مخ نيوی، د پرسونل دقيقه ارزونه، د امنيتي پوستو ارزونه، د ټولو پخوانيو وسلو او تجهيزاتو اسناد برابرول، د ټول پرسونل بايوميټريکول، د پوليسو له ليکو د مشکوکو افرادو ګوښه کول، امنيتي ټولو او کنډکونو ته د غيري مسووله کسانو ګک راتګ مخ نيوی او د کورنيو چارو وزارت مشرتابه له لارښوونې پرته د قوماندانانو له لوري د پرسونل تعيناتو او بدلونونو په اړه لازمي او جدي سپارښتنې وشوې.

د غونډې په پای کې د ټولو ولايتونو امنيه قوماندانانو د کورنيو چارو وزارت له مشرتابه مننه وکړه، چې د ولايتونو ټولې اړينې ستونزې يې واورېدې، قوماندانانو ژمنه وکړه چې د خپلو خلکو د خوندي امنيت په موخه به د افغانستان د خلکو او خاورې دښمنانو سره د ژوند تر وروستيو سلګيو پورې جنګيږي او هيڅ‌ته به اجازه ورنه کړي چې د هېواد امنيتي وضعيت خراب کړي.

بقيه صفحه ۴

بيشتر نيازمند حمايت و همکاری جامعه جهانی ميباشد.

سپس دګر جنرال جيمز رينی. قوماندان اداره مشترک انتقال امنيت براي افغانستان (CSTC-A) برتداوم همکاری های اين قوماندانی مبنی بر تجهيز و مسلکی‌سازی پوليس ملی تاکيد نموده افزود که قوماندانی مشترک انتقال امنيت براي افغانستان، از اصلاحات بوجود آمده در پوليس و وزارت اموداخله؛ حمايت همه جانبه مينمايد.

**د ٤ مخ پاتې برخه**

استازو هم له تروريزم سره د مبارزې په برخه کې د افغان ملي پوليسو لاسته راوړنې او شوي پرمختګونه وستايل او ژمنه يې وکړه چې له تروريزم سره د مبارزې په برخه کې به له افغان ملي پوليسو سره خپلې د پام وړ او لازمي مرستې ترسره کړي.

**د ۱ مخ پاتې برخه**

د کورنيو چارو وزير بشر ته د نبي کريم (ص) لومړی پيام ويل (اقرأ) ياد کړ او زياته يې کړه، چې پيامبر (ص) د پوهې په حاصلولو ټينګار کړی او د محمدي اخلاقو خپلول او پلې کول يې د بشر لپاره د درناوي کړنلاره وبلله.

ويس احمد برمک اسلامي ارشاداتو ته د خلکو د مخه کولو يادونه وکړه او وويل، چې اسلام خلکو ته د انسانيت، شرافت، نجابت، نېکو اخلاقو، عقلانيت او منطق درس ورکړی او ملي امنيتي ځواکونه يې د دې لارې ريښتني سنګرداران او پلي کوونکي ياد کړل.

د غونډې په لړ کې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت استازي مولوي رحمت الله قره باغي، د پيامبر (ص) په نظامي اوصافو رڼا واچوه او وويل، چې ملي امنيتي ځواکونه بايد د پيامبر (ص) له نظامي درسونو پوره پوهه ترلاسه او په جګړيزو ميدانونو کې يې پلي کړي.



د دې ترڅنګ د پوهنې وزارت د اسلامي ښوونو رييس محمد شعيب صيقل، د نبي کريم (ص) په صبر او زغم خبرې وکړې او زياته يې کړه، چې جګړه د يو بل وژنې لپاره نه بلکې د ګواښونو د له منځه وړو لپاره ده؛ نو په دې اساس يو بل بايد د صبر او زغم په خادر کې وزغمو.

د دې سره د اجراييه رياست سلاکار احمد نور واقف د پيامبر (ص) د سولې او امنيت د سيرت يادونه وکړه او وويل، چې د سولې لپاره د نبي کريم (ص) هڅې؛ نړيوالې وې او له مخالفو لورو يې د خبرو له لارې د سولې غوښتنه وکړه.

همدارز د حسينيو مشر مولوي محمد آصف مصباح د حضرت محمد (ص) د انساني کرامت، خپلواکۍ، درناوي او ښځو د حقونو د لارښونو يادونه وکړه او وويل، چې پيامبر (ص) بشر ته د ښو اخلاقو او اوصافو د يو ښه سمبول په شان ده.

ښاغلي مصباح خلک د پوليسو د هڅو او خلکو لپاره د عامه چوپړتياو د وړاندې کولو منندوی وبلل او وويل، چې د هېواد ملي امنيتي ځواکونه د خلکو او هېواد ريښتني بچيان دي.

د ربيع الاول دولسمه د بشريت د ژغورونکي حضرت محمد (ص) له زوکړې سره برابره ده .

دغه ورځ هر کال په ټوله اسلامي نړی او په ځانګړې توګه په افغانستان کې د ختمونو په ترسره کولو سره لمانځل کېږي.

۱۴۰۰ او ۳۵ کاله وړاندې په عربي ټاپو کې چې خلکو يې په تياره کې ژوند کاوه؛ د ۵۷۱ زيږديز کال د دوشنبې په شپه د عبدالله بن عبدالمطلب او بي بي آمنې په کور کې يو ماشوم وزيږيد او نوم يې پرې احمد کښيښود .

احمد قريشي په پنځه ويشت کلنۍ کې له بي بي خديجې سره واده وکړ او په څلوېښت کلنۍ کې د لوی او سپيڅلي خدای له لوري په پيغمبری مبعوث شو او د پيغمبری په ۲۳ کلنه دوره کې، قران عظيم الشان پرې نازل شو او د اسلام د خوراوي په موخه يې ۳۰ غزاوې او جګړې وکړې او د ٦۳ کلو په عمر يې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې .

**د ٤ مخ پاتې برخه**

کمپیوټري سیستم بدلول، د ترافیك پولیسو ریاست په ټولو ادارو کې د پام وړ اصلاحات رامنځته کول او خلکو ته ریښتیني چوپړنو برابرول دي، زه هیله مند یم چې له دې وروسته نور خپلې دروازې د کمیشن کارانو پروړاندې کلکې وتړئ او د خلکو کار که په یوه ورځ کې نه کیږي په دوه ورځو کې یې ترسره کړئ خو خلك دې ته مه مجبورئ چې خپل اسناد کمیشن کارانو ته ورکړي».

ښاغلي ابراهیمي د ترافیك پولیسو له کاري کړنو او لاسته راوړنو خوښي څرګنده کړه زیاته یې کړه«زما هیله له تاسې څخه په پاك زړه، پاکو لاسونو او پاکو ارادو سره کار کول دي، هغوئ چې پخوا یې فساد کړی خدای یې سزا ورکوي او تاسې یې وینئ چې په ډول ډول ناروغیو اخته کیږي، که تاسې په ریښتیني توګه د خلکو خدمتګاران یاست او ځانونه د دې باعزته ملت غړي بولئ نو په کومو سترګو په کومو لاسونو او په کومو زړونو بډې اخیستلو ته لاره هواروئ؟»

وروسته د ترافیك پولیسو ریاست رئیس او د ترافیك پولیسو مدیر د ترافیك پولیسو په ریاست کې د خپلو شوو کارونو او لاسته راوړنو په اړه خپل راپورنه د کورنیو چارو وزارت ستر امنیتي معین ته وړاندې کړل او ډاډ یې ور کړ چې د ترافیك پولیسو ریاست مسوولین به د کورنیو چارو وزارت له لارښوونو سره سم ګام په ګام د اصلاحاتو راوستلو او د فساد لمنځه وړلو لپاره کلکه مبارزه کوي.

پاتې دې نه وي چې د کورنیو چارو وزارت ستر امنیتي معین ستر پاسوال اختر محمد ابراهیمي د ترافیك پولیسو ریاست مسوولینو او منسوبینو څخه د لیدنې وروسته د یاد ریاست له یو شمېر ادارو او نوو جوړوشوو دفترونو څخه هم لیدنه وکړه.

**د ٤ مخ پاتې برخه**

۱۱۷۷ تنو د کابل په پېروزۍ ښارګوټي کې د ځمکې وېش یاد کړ او وویل، چې یادې ځمکې باید په رڼه ډول ووېشل شي او راپور یې په راتلونکو غونډو کې واورول شي.

د غونډې په لړ کې، د غزني ولایت د وروستۍ پېښې د شهیدانو لپاره د یو لك او ټپیانو ته د پنځوسو زرو افغانیو اکرامیې د ورکړې راپور و ارزول شو او ټینګار وشو، چې د امنیتي بنسټونو حقوق باید په خپل وخت ترسره شي.

د غونډې په پای کې، د معلولینو د کورنیو لپاره د کوپونونو د بودجې د ملاتړ او ورکړې یادونه وشوه او زیاته شوه، چې د معلولینو تنخواوې باید د منظم پلان له مخې جوړې او بشپړې شي.

## کندهار کې د چاودېدونکو توکو د ډیپو له منځه وړل



کندهار ولایت کې د پولیسو د ځانګړو ځواکونو په عملیاتو کې ۵۶۴ کیلو ګرامه چاودېدونکي توکي کشف شول.

دا عملیات د کندهار ولایت په خاکرېز ولسوالۍ کې ترسره شول، چې یاد چاودېدونکي توکي په ۵۸ پلاستیکي بوشکو کې ځای پر ځای شوي وو. چاودېدونکي توکي د خاکرېز ولسوالۍ په ناصر کلي کې د ترهګریزو فعالیتونو د ترسره کولو په موخه ځای پر ځای شوي وو.

د پولیسو ځانګړو ځواکونو چاودېدونکي توکي کشف او له منځه یوړل.

## د لاریونونو او ټولنو په اړه د کورنیو چارو وزارت اعلامیه!

سوله ییز لاریونونه د قوانینو او مدني آزادیو په رڼا کې، د هېواد د اساسي قانون په اساس د هر وګړي حق دی. ملي پولیس دا دنده لري؛ تر څو د هېوادوالو، سیاسي حزبونو او مدني ټولنو له مخکې پلان شویو لاریونونو امنیت ونیسي.

خو لکه څنګه چې په دې وروستیو کې لیدل کیږي، ځینې هېوادوال مخکې له دې چې له ملي پولیسو سره همغږي وکړي؛ په لاریونونو لاس پورې کوي، چې دا چاره د عامه نظم د ګډوډېدو او لویو مالي زیانونو لامل ګرځي.

نو په دې اساس د کورنیو چارو وزارت له ټولو هېوادوالو غواړي؛ تر څو د داسې ناوړه کړنو نه چې د عامه نظم د ګډوډېدو او خلکو ته د مالي زیانونو لامل کیږي ډډه او له خپلو ملي پولیسو سره همکار پاتې شي.

لاریون کوونکي کولای شي په هغو پینځو ځایونو کې په لاریون لاس پورې کړي؛ چې له مخکې ورته په ګوته شوي دي. په تېره کې ځینې داسې پېښې ثبت شوې چې لاریون کوونکي له خپل سرو وسلو سره د عامه نظم د ګډوډېدو لامل شوي؛ نو په دې اساس که چېرې له دې وروسته، څوك د هر ډول خطا او د خلکو په مال او ځان د تېري لامل شي، نو ملي پولیس دا دنده لري تر څو د سرغړونکو سره قانوني او جدي چلند وکړي.

## د پولیسو له خوا د ۳۷ کیلو ګرامو مخدره توکو نیول کېدل



د حامد کرزي په نړیوال هوایي ډګر کې پینځه کیلو ګرامه مخدره توکي ونیول شول. یاد مخدره توکي د هیروینو له ډوله دي.

نیول شوي مخدره توکي په ځان پاك، برزو، زېر پېرانۍ او یخن قاق کې، په ماهرانه ډول ځای پر ځای شوي وو؛ چې له هېواده بهر د لېږد پر مهال د حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر د سرحدي پولیسو د قومندانۍ د مؤظفینو له خوا کشف او ونیول شول. د نیول شوو مخدر توکو د لېږد په تور یو تن نیول شوی دی.

د یو بل خبر له مخې، د کندز د امنیې قومندانۍ د راپور په اساس؛ پولیسو د کندز – بغلان لویې لارې د پل چرخاب په سیمه کې له یو موټر څخه ۳۲ کیلوګرامه هیرویین کشف او ترلاسه کړي دي. راپور زیاتوي، چې دغه توکي په یو سراچه موټر کې په ماهرانه ډول ځای پرځای شوي وو؛ چې د پولیسو لاسته ورغلي.

د کندز امنیه قومنداني زیاتوي، چې د دغو نشه یي توکو د لېږد په تور څلور تنه نیول شوي دي.

**د ۱ مخ پاتې برخه**

ګټنې خبرې وکړې او وویل، چې د دې سیسټم لپاره ځانګړي روزل شوي کسان باید وارزول شي او هغه کسان چې له سیسټم د ګټنې په برخه کې پاتې راځي؛ بیاځلي زده کړه ورکړل شي او یا له معادله بستونو سره بدل کړل شي.

د دې ترڅنګ د سیسټیکا ادارې مرستیال جنرال بردن هم د اپس سیسټم له پرمختګونو یادونه وکړه او زیاته یې کړه، چې اپس سیستم د حاضرۍ، تنخوا، امتیازونو، تقاعد او په پرمختللې توګه د راپور د ورکولو وړتیا لري او په دې برخه کې به مرستندویه ادارې له هېڅ ډول هلو ځلو دریغ ونه کړي.

د کورنیو چارو وزارت د شفر په اساس د اپس سیسټم بستونو پرسونل باید بدل نه شي او د ۳۶ میاشتو لپاره په خپل ځای پاتې شي.

د دې ترڅنګ مالي چارواکو ته دنده وسپارل شوه، تر څو په آزمویښتي ډول د تنخواو لېږد د اپس په سیسټم کې وآزمایي او شته ستونزې له منځه یوسي.

**د ۱ مخ پاتې برخه**

اړونده مسوولینو ته کلکه سپارښتنه وکړه، چې له دې وروسته دې د ملي پولیسو قطعاتو او جزوتامونو ته د مېلمانو او غیرې مسووله وسله والو کسانو ته اجازه نه ورکول کیږي او د ملي پولیسو په لیکو کې دې د خیالي او مشکوکو کسانو د مخ نیوي په موخه جدي څېړنه او بایومیټریک ترسره شي څو خیالي او مشکوك پولیس په نښه او له دندې ګوښه شي.

د کورنیو چارو وزارت ستر امنیتي معین د ټولو جوماتونو او تکیه خانو پر خوندي امنیت ټینګار وکړ او د ټولو قطعاتو له اړونده امنیتي مسوولینو څخه یې وغوښتل چې له خپل دفاعي حالت په تعرضي حالت بدل کړي او د دښمن پر وړاندې دې خپل پراخ عملیاتونه ترسره کړي.

دغه راز د ملي پولیسو په ټولو ادارو کې کار اهل کار ته د سپارلو، د تخنیکي او ټیکنالوژیکي وسایلو څخه د سمې او سالمې ګټې اخیستنې په موخه یې هم اړونده مسوولینو ته لازمې سپارښتنې وکړې.

د غونډې په پای کې د کورنیو چارو وزارت ستر امنیتي معین ستر پاسوال اختر محمد ابراهیمي، د لسمې نمونوي حوزې جوړولو په هکله جدي لارښوونه وکړه، چې د نمونوي حوزې چارې دې چټکې شي او یو شمېر پاتې کارونه یې هم باید په پوره غور سره ترسره شي.

## زابل کې د پولیسو له خوا د اوه کیلو ګرامه نېشه یي توکو نیول کېدل

د زابل امنیه قومندان الحاج کمیسار سمونوال محمد مصطفی مایار وایي، دغه نېشه یي توکي یې د زابل ولایت په اړوند سیمو کې نیولي.

ښاغلي مایار وویل، د دې قضیې په تړاو یې یو کس لاس په لاس نیولی چې نیول شوي کس په خپل جرم اعتراف کړی دی. د زابل امنیه قومندان الحاج کمیسار سمونوال محمد مصطفی مایار زیاتوي، قاچاق وړونکي پلان درلود، چې دغه مواد بهر ته ولیږدوي خو د کشفي مالوماتو او د پولیسو په نه ستړې کېدونکو هڅو سره دغه پلان شنډ او مجرم د قانون منګلو ته وسپارل شو.

همدا رنګه د زابل امنیه قومندان الحاج کمیسار سمونوال محمد مصطفی مایار د یاد مدیریت د منسوبینو هلو ځلو د ستایلو تر څنګ وویل چې د نېشه یي توکو سره د مبارزې مدیریت ټول منسوبین شپه او ورځ زیار باسي، تر څو د نېشه یي توکو د قاچاق مخه په کلکه توګه ونیسي او پدې برخه کې یې د زابل ولایت د ولس مرسته اړینه ښوده.

له دې وړاندې هم د زابل پولیسو په بېلابېلو سیمو کې ۱۷ کیلو ګرامه هیرویین او د ساقي خانو په ضد عملیات کړي و او دغه راز د نشه یې توکو ګڼ نور کارباریان یې هم د قانون منګلو ته سپارلي دي.

# MUBAREZA

Weekly

◄صاحب امتیاز: ریاست مطبوعات و روابط عامه وزارت امور داخله ج . ا.ا

◄مدیر مسول: معروف آرین

◄مسول خبر ها: احمد ضیأ ضیأ

◄مسوول بخش پشتو: محمد تمیم رحیم زی

◄عکاس: محمد فواد وحیدی

◄برگ آرا: محمد صمیم زمانی

◄شماره تماس: ۰۲۰۲۲۰۱۷۵۸

◄شماره عاجل پولیس: ۱۱۹



◄آدرس: ریاست مطبوعات و روابط عامه

◄ایمیل: maroof.arian@moi.gov.af



سال سوم

شماره مسلسل ◘ نودوچهارم ◘ شنبه ۱۰ قوس ۱۳۹۷ ◘ اول دسمبر ۲۰۱۸ م


## دیدار وزیر امور داخله با قوماندان جدید سیستیکا



وزیر امور داخله در دفتر کارش با جنرال جیمز رینی، قوماندان جدید اداره مشترك انتقال امنیت براي افغانستان دیدار نمود.

در این دیدار جانبین روی تداوم همکاری های دو جانبه، اصلاحات در پولیس و توانمند سازی این نیروها در راستای تنفیذ و حاکمیت قانون و همچنان شفافیت در وزارت امورداخله بحث و تبادل نظر نمودند.

ویس احمد برمك وزیر امور داخله، نقش پولیس مسلکی را در تامین امنیت در کشور متبارز و ارزنده خواند و از همکاری نیروهای بین المللی در قسمت آموزش، تجهیز و رفع سایر نیازمندی های پولیس ابراز قدر دانی نمود.

وزیر امور داخله روی اصلاحات به میان آمده وشفافیت در برخي از ادارات این وزارت از جمله ادارات مالی و بودیجه، تدارکات، پیژنتون، لوژستیك یاد نموده تصریح کرد که وزارت امورداخله در راستای تطبیق روند اصلاحات

ادامه ص۲

## د ترافیکو په ریاست کې د اصلاحاتو په راوستو ټینګار



د ترافیك پولیسو ریاست اړونده ادارو دروازې دې د کمیشن کارانو پروړاندې بندې او د خلکو لپاره دې ریښتینې چوپړونه برابر شي.

دا څرګندونې د کورنیو چارو وزارت ستر امنیتي معین ستر پاسوال اختر محمد ابراهیمي نن د ترافیك پولیسو ریاست مسوولینو د کاري ستونزو د حل او راتلوونکو کاري چارو د لا ښه تنظیمولو په موخه د یاد ریاست مسوولینو او منسوبینو څخه د لیدنې پرمهال وکړې.

د کورنیو چارو وزارت ستر امنیتي معین وویل، »دا چې موږ د کورنیو چارو وزارت څلور کلن ستراتیژیك پلان د تطبیق په موخه سوکه سوکه خپلو اساسي موخو ته د رسیدو په درشل کې یو نو د ترافیك پولیسو ریاست ته زما د راتګ موخه په یاد ریاست کې د فساد لمنځه وړل، د ترافیکو ریاست کاغذي سیستم په

پاتې ۳ مخ

## د انټرپول پولیسو په ۸۷ یمه غونډه کې د ستر امنیتي معین ګډون



د کورنیو چارو وزارت ستر امنیتي معین په دوبۍ کې د ۱۷۳ هېوادونو انټرپول پولیسو ۸۷ یمې غونډې په حاشیوي ناستو کې له یو شمېر وزیرانو، مرستیالانو او د انټرپول پولیسو له استازو سره وکتل.

د کورنیو چارو وزارت ستر امنیتي معین ستر پاسوال اختر محمد ابراهیمي د تاجکستان د کورنیو چارو وزیر، د ازبکستان د کورنیو چارو وزیر مرستیال، د فرانسې، چین او د کاناډا هېوادونو د انټرپول پولیسو له استازو سره په جلا جلا حاشیوي کتنو کې، له ترهګرۍ سره د افغان ملي پولیسو د مبارزې په هکله خبرې وکړې او د یادو هېوادونو له استازو څخه یې وغوښتل چې د تروریزم پروړاندې د مبارزې، جنایي جرمونو او نورو ډول، ډول جرمونو سره د مبارزې په موخه دې له افغان ملي پولیسو سره خپلې د پام وړ مرستې ترسره کړي؛ څو د ترهګرۍ دا شومه پدیده چې سیمې او نړۍ ته کوښ بلل کېږي، په ټولیزه توګه له منځه یوړل شي.

دغه راز ښاغلي ابراهیمي له تروریزم سره د مبارزې په برخه کې د افغان ملي پولیسو لاسته راوړنې او په دغه برخه کې د افغان ملي پولیسو د شوو پرمختګونو په اړه هم مالومات وړاندې کړل، چې د تاجکستان د کورنیو چارو وزیر، د ازبکستان د کورنیو چارو وزیر مرستیال، د فرانسې، چین او د کاناډا هېواد د پولیسو

پاتې ۲ مخ

## د امنیتي او دفاعي ځواکونو د شهیدانو، معلولینو او ټپیانو اتمه غونډه



کورنیو چارو وزارت کې د امنیتي او دفاعي ځواکونو د شهیدانو، معلولینو او ټپیانو اتمه غونډه؛ د امنیتي او دفاعي ځواکونو د شهیدانو، معلولینو او ټپیانو د کمیټې د رییس جنرال آقا ګل امیري په مشرۍ جوړه شوه.

په دې غونډه کې؛ د کورنیو چارو وزارت، ملي دفاع وزارت، ملي امنیت ریاست، کور او ښار جوړونې وزارت، مالیې وزارت او د شهیدانو د کورنیو استازو ګډون درلود.

د غونډې په پیل کې، د هېواد د وروستیو پېښو د شهیدانو روح ته د دعا لاسونه لپه شول او ټپیانو ته په سمدستي رسیدګۍ ټینګار وشو.

د امنیتي او دفاعي ځواکونو د شهیدانو، معلولینو او ټپیانو د کمیټې رییس جنرال آقا ګل امیري د تېرې غونډې د پایلو راپورونه وارزول او زیاته یې کړه، چې د امنیتي ځواکونو د شهیدانو، معلولینو او ټپیانو ستونزو ته باید ځانګړې حل لاره په ګوته او د یوه منظم پلان له مخې هوارې شي.

د دې ترڅنګ، په غونډه کې ښاغلي امیري د عالي مقام د لارښوونې په اساس؛ د امنیتي ځواکونو

پاتې ۳ مخ

**سلوک و روش مناسب پولیس حین عرضه خدمات به مردم بیانگر فرهنگ عالی اوست**